# د رحمت شاه سائل په شاعرۍ کښې ترقي پسندۍ عکس

## (Depiction of Progressivism in the Poetry of Rehmat Shah Sail)

Issn 2304-1463

**Dr. Mr. Farooq Anjum**
**Asst. Prof, Department of Pakistani Languages,**
**NUML, Islamabad**
**Phone # 03445219018**
**E-mail Address:**
**farooqanjumpashtonuml@gmail.com**

The literature of all Asian languages has been significantly impacted by the progressive movement that began in Europe in the 20th century. This movement has also had an impact on Pashto literature and Pakistani literature as a whole. This literary movement opposed romantic and ideological ideas and put an emphasis on social aspects.

Pashto poetry warmly welcomed this movement. The majority of poets and writers participated in progressive activities, As a result, primary themes of progressivism like social and political issues, patriotism, love of freedom, class distinction, and humanism included in the Pashto poetry. Rehmat Shah Saail is one of the noticeable abstract figures of Pashto poetry, like other poets of his age he is also impacted by the movement. This article provides an explanation of how his poetry depicts the progressive movement.

دا حقیقت په خپل ځائے دے چې پښتو ادب د ژوند د حقیقتونو نه چرې هم د تېښتې لار اختیار کړې نه ده او تل د خپل عهد او دور ترجمان پاتې شوے دے- خو د ژوندي اوسېدو اصل حقیقت او خاصیت ئې دا دے چې پښتو ادب د خپل عصر د ترجمانۍ او د حالاتو د مقابلې کولو سره سره د راتلونکي وخت تقاضې هم په نظر کښې نیولې دي او د ژوند او فن لوئې رجحانات ئې خپل کړي دي او دعام اولس تر ذهنونو ئې رسولي دي- او په هر دور کښې ئې د وخت د تقاضو مطابق فکري او فني څرګندونه کړې ده- دغه شان خپل ځان ئې د خپل عهد ترجمان او عکاس ثابت کړے دے- خو صرف ترجمانۍ او عکاسۍ پورې محدود پاتې شوے نه دے بلکې د ژوند او حالاتو د بدلېدو او بنه والي لپاره ئې هلې ځلې هم کړې دي- او د راتلونکي ژوند دپاره ئې داسې تخلیقات کړي دي چې د فکر او نظر نوې لارې ګودرې مخامخ راغلې دي- خو مونږ که د تاریخ پاڼې ولټوؤ

نو دا ثابتېږي چې فېرنګ په دې پاکه خاوره خپل ناپاك قدمونه کېښودل او دلته ئې د ظلم زور کوم بازار ګرم کړو د عام اولس کوم استحصال ئې وکړو هم د دغه ظالمانه رويو په ضد پښتون وګړي هم خپل آواز پورته کړو- او د خپل قلم په ذريعه هر شاعر د دغه فېرنګي جابر ، ظالم او استحصالي نظام وغندلو او د خپل وطن خاورې اولس او د ژوند سره د مينې د جذباتو څرګندونه ئې ښه په زړه پورې انداز وکړه. د ښاغلي پرېشان خټك په قول:

"ایک طویل کلاسیکی سفر کے بعد پشتو شاعری نے بھی ایک زبردست قومی جدوجہد کا سامنا کیا۔ دوسری زبانوں کی طرح پشتو شاعری میں بھی تحریک آزادی کے وقت کلاسیکی مضامین کو یکسر ترک کردیا گیا۔اور ہر شاعر تحریک آزادی کے مجاہدین کے جہاد میں اپنے قلم کے ساتھ شریک ہوا۔ ترک دنیا کے صوفیانہ رجحانات کو مکمل طور پر فن سے نکال دیا گیا اور ایک قومی اور مذہبی فریضے کی طرح ہر شاعر نے آزادی حاصل کرنے کے لئے جذبات سے بھرپور قومی ترانے اور نغمے لکھنے شروع کردیئے "(۱)۔

مونږ که د دې دور په شاعرۍ نظر واچوو نو په دې کښې يو خاص سياسي قسمه شعور په نظر راځي او په دې شعور کښې د وطن دوستۍ ، اتحاد او يووالي لپاره په غټه پېمانه د څه عملي قدم د اخستلوبلنه ليدے شي- دغه شان د مکرژن انګرېز سامراج د جبر ، ظلم او استحصال په ضد دپښتو شاعرۍ د ترقي پسندۍ عناصر په څه نه څه ډول لرل- د پښتنو په زمکه دا هغه ټول محرکات او هلې ځلې وې د کومو له کبله چې د ترقي پسند تحريك د نظرياتو لپاره يوسمسور مېدان جوړؤنو ځکه دې تحريك په هند کښې د نورو ژبوسره سره په خصوصي توګه په پښتو ډېرغټ اثرات پرېباسل- په دې حقله سليم راز په تحقيقي مجله "خيابان" کښې په خپل مضمون "ترقي پسند تحريك اور صوبه سرحد (خېبرپښتون خوا)" کښې ليکي چې:

"صوبہ سرحد میں ترقی پسندی کی روایت بہت پرانی اور توانا ہے۔ اور یہی وجہ ہے کہ آزادی کی تحریک میں اس صوبے کے عوام نے بڑھ چڑھ کر حصہ لیا۔ اور بیش بہا قربانیاں دیں۔اور ہمیشہ انقلابی تنظیموں میں یہاں کے ادیبوں اور دانشوروں نے اپنی منصبی ذمہ داریاں جوش وخروش سے پوری کی ہیں۔ آزادی کی تحریک کے حوالے سے یہاں کے ادیبوں اور شاعروں نے تاریخ ساز کردارادا کیا ہے ۔ خدائی خدمتگار تحریک میں ادیبوں کا کردار نمایاں رہا ہے۔ قیام پاکستان کے بعد جمہوریت اور قومی حقوق کی جنگ میں بھی ترقی پسند اور قوم پرست اہل قلم نے قید وبند کی سختیوں کے باوجود اپنی عوام کا ساتھ دیا۔ اور حق وصداقت کا پرچم بلند رکھا۔ آج بھی اس صوبے کے شاعر ' ادیب اور دانشور ترقی

پسندی کے روایات پر عمل پیرا ہیں۔ آمریت کے خلاف جدوجہد میں پیش پیش ہیں اور ایک جمہوری معاشرے کے قیام اور ظلم واستحصال سے پاک نظام کے لئے جمہوری قوتوں کا ساتھ دے رہے ہیں" (۲)۔

ترقي پسند ادبي تحريك په تاريخ كښې په وړومبي ځل په واضح توګه او په علمي سطح ئې سماجي ژوند خپله موضوع جوړه كړه او په معاشي اړخ ئې زور راوړو- ددې سره سره ترقي پسند ادب د ژوند د نورو مضمونونو نه علاوه د معاشرې سياسي او طبقاتي اړخ هم خپله موضوع وګرځوله- ترقي پسند نظريه ادب په سماجي نظام كښې بدلون راولي او يوه داسې معاشره يا سماج جوړول غواړي چرته چې خوشحالي او امن وي- په دى حقله ثاقب رزمي ليكي:

"ترقی پسند نظریہ ادب کی اساس سائنسی سماجی فلسفہ پر ہے۔ جس سے سماجی نظام میں تبدیلی آتی ہے۔ ترقی پسند نظریہ خود کو زندگی کی عکاسی تک محدود نہیں رکھتا۔ بلکہ اسے انقلابی تنقید حیات سمجھتا ہے۔ اس لئے وہ چاہتا ہے کہ سرمایہ داری نظام اور جدید نوآبادیاتی نظام جیسے بہیمانہ سماجی نظام نابود ہو جائیں تاکہ انسانیت خوشحالی اور خیر وامن کے ماحول میں زندہ رہ سکے" (۳).

ترقي پسند تحريك كه يو اړخ ته انسان ته د ژوند د مادي اساس احساس وركوي نو بل اړخ ته په معاشره كښې د معاشي استحصال، طبقاتي لړي بري خلاف آوازپورته كوي او دې سره سره د انسان د احساساتو او جذباتو ترجماني په داسې انداز باندې كوي چې په خلقو كښې جمالياتي ذوق او تهذيبي شعور پيدا كوي- ځكه خو مونږ دا وئيلے شو چې ترقي پسند ادب په عالمي سطح باندې يو فكري انقلاب ته بلنه وركوي- د ښاغلي سليم راز په قول:

"د سماجي سائنس عالمان وائي چې طبقاتي معاشره په خپل فطرت كښې يو استحصالي او د جبروتشدد معاشره وي چې د امن ، مينې او انصاف تصور پكښې عنقا وي- ځكه اديب او فنكار د طبقاتي جبر خلاف قلمي او فني مبارزه كوي او د خپلو ليكونو او فن پارو په ذريعه خلقو كښې فكري انقلاب پيدا كوي- ورته د يو بل د حقوقو او د خپلو ذمه واريو احساس وركوي او په كښې د نورو د احترام او جمهوري رويئې شعور پيدا كوي"(۴)-

لكه څنګه چې په يوه معاشره كښې مختلف قسم فكرونه او خيالات د هغې معاشرې د مادي حالاتو نه پيدا كېږي او دغه خيالات او فكرونه يو مادي طاقت جوړېږي- ددې د پاره

ترقي پسند تحريك د ټولو نه مخکښې په نظرياتو باندې زور اچوي- ځکه چې غېر معاشرتي فسطائي او غېر سائنسي نظريات، معاشرې ته مادي او فکري زيان رسوي- او هر کله چې په نظرياتو باندې محنت اوکړے شي نو معاشره به د دغه قسم نقصانونو نه بچ پاتې شي- په درسته عالمي معاشره کښې د استحصالي قوتونو موجودګۍ کښې د ادب انقلابي کېدل يو لازمي خبره ده- ترقي پسند مصنف خپل دا فرض ګڼي چې هغه د استحصالي قوتونو په مقابله کښې د انقلابي قوتونو مرسته وکړي- او په اولس کښې طبقاتي شعور رابېدار کړي-

چونکې ترقي پسندي تحريك د کمېونزم د بنيادي نظرياتو لاندې سر راپورته کړے ؤله دې کبله د هر ترقي پسند ليکوال د تخليقاتو يوه برخه انقلابي هم وي- ځکه چې په خاص توګه په کمېونزم کښې د پرېوتې طبقې د حالت د ښه کولو او بدلون دپاره انقلاب ډېر مهم ګڼلے شي- په دې حقله په "ميني فسټو آف دي کمېونسټ پارټي" کښې ليك دي:

"ہم دیکھ آئے ہیں کہ انقلاب میں مزدور طبقے کا پہلا قدم پرولتاریہ کو حکمران طبقہ کی جگہ پر پہنچانا ہے۔ جمہوریت کی لڑائی جیتنا ہے"(۵)۔

کاکاجي صنوبر هغه نومورے شخصيت او ستر دانشور ؤ چې پښتانه ئې د ترقي پسنده فکر سره آشنا کړل او د ترقي پسندۍ په اصلي مفهوم ئې په کوټلي انداز کښې پوهه کړه- د پښتونخوا په سيمه د ترقي پسنده نظرياتو او ترقي پسنده ادب د خورونې او دې له د پرمختګ ورکولو غټ سبب او لوئے محرك کاکاجي صنوبر حسېن ؤ- خوهغه ته د نورو ترقي پسنده دانشورانو لکه داجمل خټك،افضل بنګش او د اردو او هندکو ژبو په ليکوالو کښې د فارغ بخاري ، رضا همداني او خاطر غزنوي ملاتړ او مرسته هم ترلاسه وه- - هرکله چې په پېښور کښې د انجمن ترقي پسند مصنفين څانګه پرانستې شوه نو د انجمن د غړو په هلو ځلو سره ټوله پښتونخوا کښې په ګڼ شمېر شاعران او اديبان د ترقي پسند تحريك ملګري شول او ترقي پسند فکر او سوچ له ئې پښتو ادب کښې بې کچه وده ورکړه-

په جديد پښتو ادب د ترقي پسند تحريك د اثراتو په حقله عبد الله جان عابد په خپل کتاب "پښتو زبان وادب کی مختصر تاريخ" کښې ليکي:

"اس تحریک نے پشتو کے جدید ادب کو خاصا متاثر کیا۔اور پشتو کے ترقی پسند شعراء و ادباء نے سماجی شعور، سماجی ناانصافی اور جدلیاتی مادیت جیسی اصطلاحات پشتو ادب میں داخل کیں۔ اس تحریک نے پشتو ادب کو زندگی کے شانہ بشانہ چلنے ،زندگی کے نشیب وفراز کو ادب کے ذریعے بیان کرنے اور اظہار خیال پر پابندی کو نہ ماننے کی جو مثال قائم کی ،اس کا بھرپور عکس اس تحریک سے وابستہ پشتون شعراء کی شاعری میں نمایاں ہیں"(۶)۔

د ترقي پسند تحريك سره كلك تړون لرونكو كښې يوه درنه نامه د رحمت شاه سائل هم ده چې د خپل روښانه فكر ، ښه سوچ او بې مثاله شاعرۍ له بركته د ځانګړي مقام خښتن دےاو د ترقي پسندو يا جدت پسندو په وړومبي صف كښې د ودرېدو پوره پوره حق لري- هغه د پښتو د ادب په دنيا كښې يو داسې نوم دے چې د هرې طبقې او د هر مد خلق خوا كه هغه ترقي پسند دي يا غېر ترقي پسند دهغه شاعري خوښوي او د زړه په مينه ئې لولي- او د هغې وجه دده بې باكه لهجه، ځانګړې انداز او جديديت دے- سائل د پرېوتو ملګرے دے، د بې وسو د زړه آواز دے، او د دردمنو د زړه ملهم دے- د انسانيت احترام او قدر ، احتجاج ، بغاوت، انقلاب، د نړۍ د ښكلا دپاره امن ، سوكاله معاشره ، د پرېوتې طبقې محرومي، د سرمايه دارو او جاګېردارو زور زياتے، د بد نظام غندنه، سماجي لرے برے ، عدم مساوات ، او د يو روښانه راتلونكي وخت هيله د دوي د شاعرۍ سپېځلې موضوع ګاني دي كومې چې د ترقي پسندې شاعرۍ روح ګڼلے شي- او دا واړه موضوع ګانې دوي د نورو ترقي پسندو شاعرانو نه په يو جدا او نوى انداز كښې چېړلې دې-

لكه د دوي نظم " د تاريخ جبر " چې پكښې هم دا رنګه جذبات په غور ځنګ دي- كه يو خوا پكښې د انساني ژوند د دردونو ، بې وسو او محرومو ذكر دے نو بل خوا پكښې د ښې ورځې د اميد او يقين رڼا ګانې هم خورې دي- وائي چې:

ګل كه رارژېږي هم تو كيږي هم غوړيږي هم
يو ښاخ كه غوځېږي نورې ځانګې ترې زېږېږي هم

ژوند كه په مثال د سپېلنو هسے لوګېږي هم
كله كله لوګېږي هم خو كله لمبه كېږي هم

وواېئ په جار د زنځيرونو خالقانو ته
جبر د تاريخ په زنځيرونو تړل ګران دي

دا تیرې که هر څو هیبتناکې او سنګینې دي
ژوند پکښې د وینو مشالونه وړي او لار کوي

ډېره لرې نه ده چې د ظلم جنازه وځي
خلك په سرو وینو د ژوند ناوې له سنګار کوي

یو خواته بربنډې سینې بل خوا سنګینونه دي
یو خواته ډنډې دي بل خوا سیرې ګربوانونه دي

یو خوا لوږې تندې دي ویرونه فریادونه دي
بل خوا خنداګانې دي ماړه شخوندونه دي

ورشئ او د ګل قاتل ته دا خبره هم اوکړئ
ګل که قتل هم کړې خوشبوئي قتلول ګران دي(۷).

که د سائل شخصیت او فن ګڼ اړخیزه دے ولې د هغه د مقبولیت لوئ سوب څه دے؟ په دې حقله ډاکټر اسرار د سائل د کتاب " تا به پخپل تصویر کښې ځوك ځايوي" په سریزه کښې لیکي:

"سائل هم په سینه کښې یو مئین زړه لري، حسن خوښوي، د وطن جونه، ګودرونه، زیړے مازیګرے، سور سالو، منګې، شنه خالونه او رنګینې لوپټې ستائي- خو د سائل غټه پېژندګلو د هغه ترقي پسنده خیالات د پښتو دقامي سیاسي تحریك په هلو ځلو کښې یو فعال او مخلص کارکن په حېث د هغه منډې ترړې، د هغه قامي او انقلابي نظمونه ، د مزدورانو خواري کښو د هقانانو او مظلومو طبقو د آزادۍ ترانې او د پښتون قام د وحدت آزادۍ او خوشحالۍ خوبونه ، بیا د دغه خوبونو چور چورکېدل او د پښتون قامي تحریك د المیې سره مخامخ کېدل، په ډېره تیزۍ سره د خلقو رویئې بدلیدل- د خلقو د رهبرانو نه باور پاڅېدل، د ځان ځانۍ خودغرضۍ، لاتعلقۍ ، غېر یقینۍ، د منافقت دروغو، د چل ول د زرپرستۍ او اقتدار پرستۍ ، بې ایمانۍ، او بې

غیرتۍ راج، په جماعتونو کښې بمونه، په حجرو او بازارونو کښې بمونه، په آسمان کښې بمونه، د سامراجي قوتونو وقتي فتوحات، دا زمونږ عصرد ے دا د سائل عصر د ے په داسې حالاتو کښې به یو باشعوره او حساس بنیادم او بیا په خصوصي توګه یو حقیقي شاعر،ادیب او دانشور، چې کوم ذهني او قلبي او روحاني تکلیف نه تېرېږي د هغې اندازه کولے شي- سائل چې د پښتون قام په تناظر کښې دې هر څه ته ګوري او محسوسوي ئې نو ځان ورته تنها ښکاري"(۸)-

خوچې ځان ورته کله بې وسه او یواځې ولېد ے شي نو بیا چپ نه پاتے کېږي- او ډېر په درد بدلې جذبې سره د نړۍ د تخلیق کارانو او قلم کارو په لور داسې ګویانه شي-

نـــن د وحشـــت د ســـرمائې د څـــو نـــادانو پـــه لاس
لکـــه خســـنې د بـــاردو پـــه ډهـــېرۍ پرتـــه ده

دا باچـــائي د هـــــوس دغــــه ســـرزوري د زرو
تـــار پـــه تـــار شـــوې افســـانه د زنـــدګۍ پرتـــه ده

داېټمونـــو څـــو ګـــوډۍ د مـــاشومـــانو پـــه لاس
زمـــونږ پـــه ژونـــد او پـــه غربـــت پـــورې ملنـــډې کـــوي

درنده ګـان دي چې څه مـومي نو پـه خـله ئې منډي
اوس پـه غـلا هـېڅ نـه کـوي هرڅـه پـه بربنـډې کـوي

د دې دنیـــــا د نـــازولـــو وارثـــانو پـــه ســـر
خدائے زده د کوم قسم بـائېللې جنـګ بلا ســوره ده

د دې دنیـــــا د ســـرمائې د مالـــکانو پـــه ســـر
خدائے زده د کوم قسم وژونکې سود سودا سوره ده

چې چرته اور وينې قسم ئې کړے وژنې ئې نه
سم په اشر پسې راځي ورله پوکي ورکوي

که چرته پړې او مرۍ اوينې سوري سوري
ورله رامنده کړې په منده تيزندي ورکوي

هم د دې نظم په آخر کښې قلم کاران او تخليق کاران د مقصديت په لور رابللی او خپل پېغام ورله په دې ډول ورکوي"

د قاتلانو په سرونو کښې الفت اوکړئ
دا تصور د ځان سره نوے پېغام واخلئ
د نفرتونو په دوزخ کښې الفتونه عام کړئ
په ابتهم بم د روح ځادر خور کړئ او ګام واخلئ
اے د نړۍ تخليق کارانو په قلم مئينو
په تصور او په تصوير او په صنم مئينو
د ګل په غېږ کښې په اوده اوده شبنم مئينو
د انتها ته رسېدلې د ظلمونو دنيا
ستاسو قلم، ستاسو تصوير، ستاسو آواز غواړي
دا د لکهونو کالو درد د ايږدها په شکل
د درد او سوز د تاره وتے سازغواړي(۹).

په "عظيم شاعر" نظم کښې د غريب او خوار و زار اولس ، بې زارۍ لوږې تندې، د استحصالي نظام ، دعدم مساواتو نقشه راکاږي او د نادارو سره د همدردۍ اظهار کوي- وائي چې:

نن دريمه ورځ ده چې باران ورېږي
کږې وږې شپې بې واره شپې

داسې راځي لکه چې چل د ورېدو زده کوي
نن دریمه ورځ ده چې روز ګار بند دے
لکه بېرې بندې ولاړې وي د خدائے په آسره
د حېرانۍ په ګودر
نن دریمه ورځ ده چې په دغه کور کښې
چرته لوګے قدرې هم نه دے شوے
انغرے سوړ پروت دے
نن دریمه ورځ ده چې په ګېډه
څوك د بهر نه يو آواز کوي
د قات د شمنه شابه اوورېږه
نن دریمه ورځ ده چې په دغه کور کښې
د مور په غېږ کښې يو نهر ماشوم
د خپلې مور ځنې تپوس کوي
مورې! سبا به باران وي او که نا؟
مورې ! سبا به نمر راخېژي که نا؟
مورې ! سبا به مونږه څه پخوو او که نا؟(۱۰)-

دغه شان په يو بل نظم "شاعر ته" کښې هم د دغه رنګ جذباتو اظهار دے او د ظلم زور ، استحصال او نا انصافۍ په داسې حالاتو کښې ترې دا رنګه غوښته کوي:

زمـا او سـتا نظمونـه بـه هـم غـم د زنـدګۍ وي
زمـا او سـتا تخليـق بـه هـم مـاتم وي او سـلګۍ وي
زمـا او سـتا جـذبې بـه هـم بنـدي پـه زولنـو وي
زمـا او سـتا الهـام بـه هـم ادراك د پښـتنو وي
شـاعره زه او تـه بـه دا احسـاس پـه اور سـوزېږو
پـه خپـل قسـمت بـه نـاز کـوؤ ړنـدو تـه بـه بلېږو(۱۱)-

په خپل نظم "میاندم " کښې د طبقاتي درجه بندۍ او سماجي لړي بري بد وائي- چې د یو آدم په اولاد کښې دومره فرق آخر ولې؟

میا ندم ښائسته دے او د زړه سرئې بنګلې دے
بنګلــې د نــورو دي جــونګړې د میانــدم د بچــو
میـا نـدم میـا نـدم نانغمـه ګـرد ے دسندرو کـور د ے
نغمــې د نــورو دي او ســاندې د میانــدم د بچــو
تـاو تـرې د شـپول هسـې د خدائے د مجرمـانو جـونګړې
میـنځ کښـې د خدائے د نـازولو سـپینې سـپینې بنګلـې
تــاوترې ځــوکۍ د نظرونــو د میانــدم د بچــو
میـنځ کښـې پـاللې ښـکلې ښـکلې او رنګینـې بنګلـې
دا پــه یــوه پولــه دوزخ او د جنــت نظــارې
شــاعر زړګیــه وایــه وایــه کنــه خیــال دې څــه دے
دغــه د خپــل کــور دوزخــې دا د بهــر جنتــې
شـاعر زړګیـه وایـه وایـه کنـه خیـال دې څـه دے(۱۲)-

یا په "تپوس" نظم کښې هم دغه رنګه جذبات دي وائي چې:

زه هــم یــو انســان یــم دې وطــن کښــې زېږېـدلے یـم
دلتــه د ژونــدون د تېرولــو حــق لــرم او کــه نــه؟
زه چې حیـوان نـه او یـو انسـان خدائے پېدا کړے یـم
دلتـه کښـې د خلې د پرانسـتلو حق لـرم او کـه نـه؟(۱۳)-

سائل په خپل چاپېرل ژور نظر ساتي چرته هم چې په مظلوم زور زیاتے او ظلم کېږي څه واقعه پېښېږي نو خامخا ئې په خپل فن او شعري ژبه کښې رانغاړي او عکاسي ئې کوي- د ډاکټر اسرار په قول:

" په دنیا کښې که هر ځائې او په هر چا ظلم شوے دے د سائل زړه هلته رسېدلے دے په چغو چغوئې ورته ژړلي دي او د ظالمانو ضمیرونه ئې سکونډلي دي که هغه پېښور دے که کابل دے که وېتنام ؤ که عراق دے که فلسطین دے که هغه د لېډي ډیانا د مرګ حادثه ده او که هغه د "ریچبل کورۍ" د بې مثاله قربانۍ واقعه ده"(۱۴)-

پورتني اقتباس کښې د ذکر کړے شوې واقعاتو باندې د سائل لیکلې د دوه نظمونو څه برخې د نمونې په توګه دلته راوړؤ-

د "ریچل کوري" نومې جینۍ په حواله لیکلې نظم کښې هغې ته د عقیدت پېرزونې وړاندې کوي او د امن دپاره ورکړې قرباني ئې ستائي او وائي چې:

اے د تمـــام انســـانیت پـــه غـــم ککـــړې جینـــۍ
ارمـــان د "امـــن" د اجـــل غیـــږ لـــه راوړې جینـــۍ
د نفـرت زړونـه د الفـت پـه تـار کښـې تـړې جینـۍ
مړه شوې په ډېره بې دردۍ خونشوې سترې جینۍ
څه لېونتوب دې د وحشت پـه مخکښې کړې جینۍ
چې د اجـل پـه غیـږ کښـې هـم ګلونـه سپړې جینـۍ
رالـه تاکـل، سـتا درتبـې، سـتا د مقـام نـه راځـي
رالـه هېڅ چل ستا د جذبې د احترام نه راځي(۱۵)-

په " پېښور" نومې نظم کښې وائي:

مادرتـــه تـــول عمـــر د ګلونـــو ښـــار وئـــېلے دے
ځنـــګ بـــه مـــې پېـــرزو شـــې پـــه بمونـــو پېښـــوره
ستا تصویر مې تل د زړه په وران کور کښې ساتلے دے
ځنـــګ بـــه مـــې پېـــرزو شـــې پـــه بمونـــو پېښـــوره
چـــا کـــه د لنـــدن د ښـــار د حســـن قصـــه کـــړې ده
ستا تصویر مې غلے شان پـه زړه کښې خندیدلے دے

چاکـــه د پېـــرس مـــازيګري ســـندرې کړېـــدي
ســـتا صـــدر زمـــا پـــه زړه بـــلا راوربـــدلې دے
چـاهم کـه مـانړې د واشـنګټن پـه خونـد سـتائېلې دي
زه سـتا دلربـا قصـه خـانۍ غبـږ کښـې اخسـتے يـم
چاکـــه د ډيلـــي د ماښـــامونو ذکـــر کـــړے دے
زه سـتا ماښـامونو پـه کوڅـه کوڅـه کښـې نوسـتے يـم
ماتـه خـو دې ګـرد هـم د سـپرلي د رنګـه ښـکلے دے
څنـګ بـه مـې پېـرزو شـې پـه بمونـو پېښـوره(۱۶)-

په کميونزم مينې فستو کښې د ټولې نړۍ مزدورانو او خوارى کښو ته د يو موټې کېدو غږ شوے دے ولې په کميونزم کښې د ټولونه اهمه طبقه مزدور او خواري کښ ګڼلے شي- خو د بده مرغه تل له غټانو د دوي استحصال کوي او خپل حق نه ئې محرومه ساتي- سائل هم د کميونزم د سيوري لاندې دا طبقه مهمه بولي او د سماج د بدلون ، ښه کېدو او څوکالۍ دپاره د دوي يو موټې کېدل او انقلاب راوستل يقيني او ضروري ګڼي-
" د مزدورانو نعره" نظم کښې دا جذبات داسې بيانوي:

تاســو تــه ملګــرو د بــې وســه وطــن ســترګې دي
تاســو بــه ســبا ګټــۍ پــه تاســو د نــن ســترګې دي

څــــئ چــــې څــــو ملګــــرو څــــئ چــــې څــــو
څــــئ چــــې څــــو ملګــــرو څــــئ چــــې څــــو

ستاســو نــه بغېــر د څــه بــدلون خبــرې ګرانــې دي
بــې د زړه چــاودون نــه د ژونــدون خبــرې ګرانــې دي

ځـــئ چـــې ځـــو ملګـــرو ځـــئ چـــې ځـــو
ځـــئ چـــې ځـــو ملګـــرو ځـــئ چـــې ځـــو(۱۷)-

سائل د انقلاب د راتګ وجه په معاشره کښې موجود زور ظلم، لرے برے او غلامي ګڼې ځکه خو وائي:

ګڼـــې کـــه دا قتـــل وقتـــال تـــل د ذهنونـــو کېـــږي
معاشـــره وي خـــونړۍ او هـــم قاتلـــه داســـې
دا لېونتـــوب بـــه يـــو د ســـرو وينـــو طوفـــان راولـــي
عرق به ماڼکے کشتۍ سره شي د ساحله داسې(۱۸)-

سائل انقلابي دے خو هغه دا انقلاب د انسانيت د ښېګړې، د بشري حقونو د تحفظ ، د يو ښه نظام دراتګ ، امن او سکون راوستو دپاره غواړي- د ناوړه نظام خلاف چې سائل کوم انقلاب غواړي د هغې خد وخال داسې بيانوي-

يوداســـې انقـــلاب چـــې د دې زوړ نظـــام قاتـــل شـــي
يوداسې بغاوت چې ترې په مرګ کښې ژوند حاصل شي
يوداســې انقــلاب چــې ئــې ســحر پــه وينــو ســور شــي
يو داسې بغاوت چې د سا مراج راج ئې قاتل شي(۱۹)-

که وکتے شي نو سائل دخپل ترقي پسنده رجحان له وجې په خپلو نظمونو کښې د انسانيت د احترام او عزت خبره کوي د خوارې کښنو او زېلو طبقو ذکر کوي- دغه شان د جابر، غاصب د ظلم او مظلوم سره د مرستې او همدردۍ څرګندونه کوي- او د ټولو پام د انسان اقتصادي او معاشرتي پرمختګ په لور راګرځوي هم دغه نخښې نخښانې دنظم سره سره ئې په غزل کښې هم څرګندې په نظر راځي ځکه چې د سائل د غزل په فن هم ښه لاس بر دے- او په دې مېدان کښې ئې هم خپل کمال ښودلے دے له دې خا صيت له کبله ډاکټر خالق

زيار خوهغه ببخي د غزل شاعر بولي- په "جرس" رساله کښې ډاکټر خالق په خپل مضون کښې ليکي:

"سائل صاحب د پښتو شاعرۍ په ټولو مروجو صنفونو کښې شاعري کړې ده ولې بيا هم زياته برخه ئې په غزلو مشتمله ده او زما په خيال هغه په بنيادي ډول د غزل شاعر دے"(۲۰)-

سعد الله جان برق هم سائل د شلمې صدۍ غورئيز او نمائنده شاعر يادوي او د غزل د خوبو ئې داسې ستائنه کوي-

"د شلمې صدۍ د غزل نمائنده شاعر زما په خيال کښې رحمت شاه سائل دے- د زلف ورخسار خبرې چې کوي نو په لاشعور کښې ئې د تيرې او رڼا احساس هم موجود وي چې د ګل خبره کوي نو ازغي ازغي ماحول په حواله ئې کوي- د سائل غزل د پښتو د ناوې نکريزې دي خو دا نکريزې په آسانه نه دي راغلې چې د ده فکر او احساس ټکېدلے دے- اوړه شوے دے په اوښکو لوند شوے دے اغږلے شوے دے نو هله ترې دا دومره ښائسته رنګ راوتے دے د دې ښائسته رنګ يو نمونه

په تسو نسو سپورو زلفو کښې دې مړه ګلونه
د چا مزار ته دې د زول په شپه ډيوې بلې کړې

د سائل په غزل کښې چې کومه خبره ډېره واضحه ښکاري هغه دا ده چې د ده غزل بالکل ځان له دے او خپل منفرد انداز لري په دغه حواله زه سائل يو مثالي شاعر ګڼم اکثر شاعران د چا تقليد خو کوي يا د چا اثر وي پرې او ډېر لوئې لوئې شاعران هم ددې نه بچ نه دي پاتې زمونږ په دور کښې صرف دوه کسان زه ګڼم چې خپل مثال پخپله دي يو خاطر او بل سائل- د سائل انداز - د سائل الفاظ – د سائل تشبهبات مطلب دا چې د ده د غزل روح بالکل يو جدا طرز لري"(۲۱)-

د سائل غزل د ډېرو کمالاتو نه ډک دے او په عصري تقاضو پوره خېژي خو دې سره سره د هغه په غزل د ترقي پسندۍ اثرات خواره واره پراته دي- د خپل قام ، اولس ، هېواد او زېلو خلقو دپاره د هغه په غزل کښې بې کچه مينه او همدردي ښکاري د غټانو او زورورو په استحصالي او ظالمانه او غاصبانه روئيو په آزاد مټ بد وائي-

په خپل یو غزل کښې سرمایه دار ، ظالم او غاصب ته مخاطبه کوي او وائي:

ته هم که دعوی کړې د خدائے خو دا به نه هېرے
کلي د فرعون کښې یو موسی راپېدا کیږي هم

دا پښتون وطن په خطا هم ادیره مه ګڼه
دلته ګورے ننګ د ګور د مړو ولاړیږي هم

نور په دې زخمي وطن مشق د ستم مه کوه
دا سینې چې ډال شي سنګینونه پرې ماتیږي هم(۲۲)-

د ظالمانه نظام د مخالفت ، د بې وسۍ او د طبقاتي لړي برې نقشه په خپل غزل کښې داسې راکاږي:

دا قانون د چا قانون دے دا نظام د چا نظام دے
دلته قېد دے هلته بند دے دلته دار دے هلته دام دے

دا چې دې بازار کښې کیږي سوداګانې د سرونو
دغه وېش دے که تالان دے ، دغه لوټ دے که تالان دے

زنځیرونه دي او مونږ یو د وحشت باچا ګرځي ده
دا د کوم جرم سزا ده دا د څه شي انتقام دے

زه انسان یمه ژوند غواړم د ژوندون حقونه غواړم
دا په ما د څه تور لګي دا په ما د څه الزام دے

پـه دې يـو وطـن کښـې اوسـو ، لـږ تپـوس کـوم صـاحبه !
ستـا پـه برخـه نېك نـامي ده زمـا مـخ د ے چې بـدنام د ے(۲۳)-

په يو بل غزل کښې هم ددغه رنګه جذباتو اظهار شو ے د ے-

دا يـــو زه يمـــه چـــې ژاړم د ســـندرو پـــه وطـــن کښـــې
کنـــه ! دا يـــو رواج د ے د نهـــرو پـــه وطـــن کښـــې

آزاد مـــې نـــه کـــړو ځـــان د زر پرســـتو د رواجـــه
دا ګـل ځـواني مـې خـاورې کـړه د زرو پـه وطـن کښـې

څـــه زده کـــړم د بنګلـــو د روايـــاتو نـــه ملګـــرو
زه اوســم د جــونګړو او کنــډرو پــه وطــن کښــې(۲۴)-

د عدم مساواتو او د طبقاتي درجه بندۍ په حقله وائي:

پـــه پرونـــۍ ورځـــې تکيـــا بـــه څـــه وي
نـــن چـــې يـــم ورك زمـــا صـــبا بـــه څـــه وي

تـــه ئـــې مالـــك او زه مـــزدور د وطـــن
مـــنځ کښـــې رشـــته زمـــا او ســـتا بـــه څـــه وي(۲۵)-

د سائل په غزل کښې د بغاوت او انقلاب رنګ ښکاره ليد ے شي - هغه د سماج د بدلون د انسانيت د ښېګړې ، ديو ښه نظام د راتګ او د غاصب او سامراجي نظام د فنا کېدو دپاره دا لازم ګرځوي ځکه خو په جار وائي:

روان پـــه ســـپینه لاره وو قېـــدیان آخـــر پـــه څـــه شـــو
زنځیـــر مـــاتول غـــواړي دا مـــزل پربکـــول غـــواړي

انجـــام ئـــې چـــې د هـــرې بـــلا ســـترګې راتـــه ښـــائي
دې جـــام کښـــې کـــه شـــربت وي او کـــه زهـــر ګوتـــل غـــواړي

یـــوه د بغـــاوت تپـــه چـــې ســـر د تېغـــه تېـــر کـــړي
توکـــل غـــواړي ســـوچ نـــه غـــواړي دې دار تـــه ختـــل غـــواړي

معنـــی د لېونتـــوب بـــې لـــه دې بلـــه څـــه کېـــدے شـــي
دا غـــر کـــه د فـــولادو وي دا ســـر مـــاتول غـــواړي

چـــې مـــونږ تـــږي تـــرې ځښـــے نـــه شـــو اغیـــار ورپکښـــې لامبـــي
دا ســـین کـــه اباســـین شـــي هـــم پـــرې اورلګـــول غـــواړي(۲۶)

د خوار غریب او زپلي شوي اولس د ښې ورځې په امید د هغوي انقلابي جذبه داسې راپاروي:

دا لارې د ژونـــد دې لیـــوني غـــواړي
داؤ چـــې د ســـرونو شـــي ځلمـــي غـــواړي

هلـــئ پتنګـــانو ځـــان پـــرې اووژنـــئ
شـمع خپـل ښائسـت لـه زنـدګي غـواړي(۲۷)

لنډه دا چې داسې ډېر غزلونه اونظمونه درحمت شاه سائل په شعري مجموعو کښې شته چې هغه د ده د ترقي پسنده فکر او اشتراکي نظریې آئینې دي- سائل په هر مېدان د مظلوم اولس ، دهقان او مزدور په مرسته کښې د هر ظالم جاګېردار خلاف بې د څه یرې

ترهې د خپل قلم دلارې آواز اوچت کړے دے- ځکه چې هغه دسماجي برابرۍ امن ، خوشحالۍ ، سوکالۍ ، مساواتو، انسان دوستۍ او د انساني همدردۍ نه ډکې معاشرې د قيام آرزو لري- او يوه داسې ټولنه په وجود کښې راوستل غواړي چرته چې انساني وقار او انساني عظمت قائم دائم وي او دا هر څه د هغه د ترقي پسنده سوچ اونظرعکاسي کوي-

## حوالې:


۱- پریشان خټک ، پښتو ادب مشموله ادبي رجحانات ، مرتبین رباني اګرو، خالد اقبال یاسر، اسلام آباد، اکادمي ادبیات پاکستان، ۱۹۸۴ء، ص:۲۹

۲- سلیم راز، ترقي پسند تحریک اور صوبه سرحد (مقاله) مشموله خیابان، شعبه اردو جامعه پشاور، بهار ۲۰۰۶، ص:۲۵۱

۳- ثاقب رزمی، ترقي پسند نظریه ادب کی تشکیل جدید، لاهور آئینه ادب، ۱۹۸۷ء ص:۲۰۳

۴- سلیم راز ، زه لمحه لمحه قتلېږم ، چارسده ، پشکلاوتي ادبي مرکز (پام)، جنوري ۲۰۰۹ء ص:۸

۵- کارل مارکس، فریډرک اینگلس، کمیونسټ پارټي کا مینی فسټو (اردو ترجمه راناعبدالرحمن)، لاهور بک هوم، ۲۰۰۸ء ، ص: ۵۳

۶- عبدالله جان عابد، "پښتو زبان وادب کی مختصر تاریخ" پشاور، یونیورسټي پبلشرز ۲۰۰۶ء ، ص:۹۰، ۹۱

۷- رحمت شاه سائل، د ښائستونو د سپرلي بادونه، پېښور دانش خپروندي ټولنې تخنیکي ځانګه ، جنوري ۲۰۰۹ء ص ، ۵۲ ، ۵۷

۸- اسرار، ډاکټر، سریزه مشموله ، تا به خپل تصویر کښې ځوك ځایوي ، د رحمت شاه سائل، پېښور، دانش کتابتون ،مارچ، ۲۰۰۹ء ، ص:۹ ، ۱۰

۹- رحمت شاه سائل، د چنارونو نه لمبې اووتې، پېښور، دانش کتابتون، اپریل، ۲۰۰۸ ء، ص:۱۰۲ ، ۱۰۳ ، ۱۰۷

۱۰- رحمت شاه سائل، د ښائستونو د سپرلي بادونه، ص: ۸۲ ، ۸۷

۱۱ رحمت شاه سائل، تا له تصویر په ګلاب جوړ کړم که نه؟ پېښور، دانش کتاب خانه، مارچ ۲۰۰۲ء، ص: ۱۲۱

۱۲- رحمت شاه سائل، د ښائستونو د سپرلي بادونه، ص:۹۴

۱۳- رحمت شاه سائل، د وير په چم کښې وار د نغمو دے- پېښور، دانش کتاب خانه ، جنوري، ۲۰۰۵ء، ص: ۲۰

۱۴- اسرار، ډاکټر، سريزه مشموله تابه پخپل تصوير کښې ځوک ځايوي د رحمت شاه سائل، ص: ۸

۱۵- رحمت شاه سائل، د چنارونو نه لمبې اووتې ، ص: ۸۱

۱۶- رحمت شاه سائل، د ښائستونو د سپرلي بادونه، ص: ۲۵

۱۷- هم دغه ، ص: ۱۴۸

۱۸- رحمت شاه سائل، د وير په چم کښې وار د نغمو دے، ص: ۴۵

۱۹- هم دغه ، ص: ۱۲۴

۲۰- خالق زيار، ډاکټر ، د رحمت شاه سائل نظمونه ، (مقاله) مشموله درې مياشتنۍ جرس نظم نمبر ، جنوري ۲۰۰۱ء مارچ ۲۰۰۲ء ، ص: ۸۱۹

۲۱- سعد الله جان برق، سريزه ، مشموله د لمبو په سوري د رحمت شاه سائل ، پېښور، دانش خپرندويه ټولنه ، مارچ ۲۰۰۷ء ، ص: ۱۰ ، ۱۱

۲۲- رحمت شاه سائل ، د ښائستونو د سپرلي بادونه ، ص: ۷۹

۲۳- رحمت شاه سائل ، د وير په چم کښې وار د نغمو دے ، ص: ۱۰۲-

۲۴- هم دغه، ص:۱۱۳

۲۵- رحمت شاه سائل ، حالات چې اور وروي ، اداره نه لري ، اکتوبر ۲۰۰۲ء ، ص: ۱۰۱

۲۶- رحمت شاه سائل ، د وير په چم کښې وار د نغمو دے ، ص: ۱۱۹

۲۷- رحمت شاه سائل ، د ښائستونو د سپرلي بادونه ، ص: ۱۲۷

## Hawaly

1: pareshan khatak, Pashto adab mashmola adabee rujhanat, muratebeen rabanee Agru, Khalid Iqbal,Yasir ,Islambad.Acadmy adbiyat Pakistan 1984. Safha :29

2: Saleem Raz , Taraqee pasand tehreek aor subah sarhad ( Maqala) mashmola khayaban , shubah Urdu jamigha Peshawar , bahar 2006,safha : 251

3: Saqib Razmee,taraqee nazriya adab ki taskheel jadeed, Lahore ,ayena adab ,1987, Safha:203

4: Saleem Raz. Za lamha lamha qatligum,charsada,peshkalwatwe adabee markaz( pam) jannuary 2009 safha: 8

5: Carl markas, fridrik anglus,communist party ka manifesto ( Urdu tarjuma Rana Abdurrehman) Lahore book home ,2008 ,safha:53

6: Abdullah Jan Abid , pashto zaban wo adab ki tareekh .peshwar .university publishers 2006 ,safhat:90-91

7: Rahmat shah saail, d khaistunu d sparlee badona. Pekhawar , danish khperwandee tolani tekhniki sanga , January 2009,safhat: 56-57

8 : Israr .dr , seriza mashmola , ta ba Pa khpal tasveer ki suk zayave, d rehmat shah saail,pekhawer , Danish kitaboton , March 2009, safhat 9-10

9: Rehmat shah saail , d chinarono na lambay wowaty, pekhawar,Danish kitabtoon ,April 2008, safhat : 102-103-107

10: Rehmat shah saail, d khaistono d sparlee badona , safhat: 86-87

11: Rehmat shah saail , tala tasveer Pa gulab jor krum ka na ? Pekhawar, Danish kitab khana , March 2006 safha :121

12: Rehmat shah saail,d khaistono d sperlee badona , safha :94

13: Rehmat shah saail ,d veer Pa chum ki war d naghmo dy, pekhawar,Danish kitab khana ,January,2006,safha:60

14: Israr ,dr .seriza mashomola ta ba Pa khpal tasvee ki suk zayawe d Rehmat shah saail .safha :8

15: Rehmat shah saail , d chinarono na lamby wowaty , Safha : 81

16:Rehmat shah saail ,d khaistono d Sperlo badona ,safha : 25

17: hum dagha ,safha:148

18:Rehmat shah saail ,d veer Pa chum ki war d naghmo dy,safha :45

19: Hum dagha ,safha: 164

20: Khaliq ziyar,dr, d Rehmat shah saail nazmona(maqala)mashmola dray mauashtanaiy jarus nazum number,January 2001-March 2002 ,safha: 819

21: Saadulah jan barq,seriza mashmola d lambo Pa soory d Rehmat shah saail , pekhawar,Danish khperandveya ,March 2007 ,safhat :10-11

22: Rehmat shah saail,d khaistono d sperlee badona,safha:79